WWW.CSRSKABUL.COM

## مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

## د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره:** ۵۸ (از ۲۸ جدی الی ۵ دلو ۱۳۹۲ هـ ش)

این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:

### ۱ – د سولې بهیر د بریا لپاره باید یو دریمګړی لوری رامنځته شي!

- دوکتور عبدالباقي امین وايي: "که څه هم اوس ذهنیتونه تر ډېره داسې جوړ شوي، چې افغانان پرته له سولې بله لار نه لري؛ خو څه چې دلته یې اړتیا ده، هغه د یوه داسې دریمګړي لوري راپیدا کېدل دي، چې له ټولوټولو لورو سره کېناستلی شي او د سولې په اړه هغوی ته قناعت ورکړي

## ۲ – د افغانستان او امریکا وروستۍ ناندرۍ او د افغانستان راتلونکی

- که چېرته سعودي عربستان او پاکستان هوکړې ته ورسېږي او له طالبانو سره اړیکې سمې کړلای شي، دا ډول دېموکراتان هم د سي آی اې تر فشار لاندې رانه شي، په دغه صورت کې به اوسنی نظام ړنګېږي او په افغانستان کې به له ټولو ښکېلو لورو څخه جوړ شوی نوی حکومت منځته راځي.

## د سولې برخه:

## د سولې بهیر د بریا لپاره باید یو دریمګړی لوری رامنځته شي!

حکمت الله ځلاند



په افغانستان کې د سولې ټینګښت هغه موضوع ده، چې له تېرو څو کلونو راهیسې یې افغانان په تمه دي؛ خو دا چې یوازې د سولې نوم اورېدل کېږي او څه پایله یې څرګنده نه ده؛ ټولو افغانانو ته د سولې نوم او د سولې تش په نامه بهیر د واکمنو چارواکو د سیاسي ګټې اخېستنې یو مفهوم ګرځېدلی دی.

افغان دولت په تېرو کلونو کې د سولې په نوم وخت ناوخت ځینې فعالیتونه درلودلي دي، د سولې عالي شورا یې جوړه کړه، له ګاونډیو هېوادونو څخه یې د سولې په برخه کې د همکارۍ غوښتنې وکړې، چې وروستی ګام یې د ولسمشر کرزي هغه دریځ دی، چې د سولې لپاره یې د عملي ګام اوچتولو شرط، له امریکا سره د امنیتي تړون د لاسلیک لپاره کېښود؛ مګر تر اوسه هم د سولې لپاره څه هیله نشته ده.

بلخوا ګاونډیو هېوادونو لکه ایران او پاکستان او د سیمې هېوادونو، چې له افغانستان سره تودې اړیکې پالي، لکه هندوستان هم د افغان سولې بهیر ته، چې کېدای شي په اړه یې څه اغېز ولري، درناوی نه دی کړی او یوازې په تشریفاتي فعالیتونو او خبرو یې بسنه کړې او د خپلو ګټو له مخې، نه غواړي چې دلته سوله ټینګه شي.

خو سوله یو حقیقي نوم دی او که څوک یې وغواړي راتګ یې ناشونی نه دی؛ مګر دا چې له کومې لارې راتللی شي، اوسني خوځښتونه او فعالیتونه پر هغه لار نه دي روان.

د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو د مرکز مشر دوکتور عبدالباقي امين، د دغه مرکز له رسنيز ګروپ سره په يوه ځانګړې مرکه کې، د سولې د اوسني بهير د ناکامۍ لامل دا بولي، چې لاهم د سولې لپاره په حقيقي توګه هلې ځلې نه دي شوې او د دغه بهير د بريا لپاره د يوه ديموکرې افغاني لوري رامنځته کېدلو ته اړتيا ده.

دوکتور عبدالباقي امين وايي: "که څه هم اوس ذهنيتونه تر ډېره داسې جوړ شوي، چې افغانان پرته له سولې بله لار نه لري؛ خو څه چې دلته يې اړتيا ده، هغه د يوه داسې ديموکرې لوري راپيدا کېدل دي، چې له بېلابېلو لورو سره کېناستلی شي او د سولې په اړه هغوی ته قناعت ورکړي او د سولې د غوښتنو په اړه بحث او مناقشه ورسره وکړي، ترڅو يې په پايله کې وکړای شي چې نظرونه سره نژدې کړي او داسې يوې جامع طرحې ته ورسېږي، چې له مخې يې ټول ښکېل لوري داسې ګامونه پورته کړي، چې له امله يې په افغانستان کې جګړه پای ته ورسېږي او له هېواده بهرني ځواکونه ووځي او افغانان داسې يوه مشترک ملي ميثاق ته ورسېږي، چې په نتيجه کې يې خپلې داخلي ستونزې هوارې کړای شي."

د نوموړي په وينا، تېرې لس کلنې جګړې دا ثابته کړه، چې هېڅ لوری هم د جګړې له لارې خپل مقابل لوری نه شي ماتولی او بريا ته نه شي رسېدلی، چې دا حقيقت اوس افغان حکومت، امريکايانو، طالبانو او نورو بېلابېلو لورو هم درک کړی دی.

ښاغلي امين زياته کړه: "د همدغه حقيقت د درک کولو په پايله کې امريکايان هم دې ته حاضر شول، چې له طالبانو سره خبرې وکړي او طالبان هم حاضر شول، چې له امريکايانو سره خبرې وکړي او په قطر کې يو سياسي دفتر ولري؛ مګر تر اوسه يې د سولې حقيقي غوښتنو ته ځواب نه دی ويلی، چې هغه غوښتنې دا وې چې ټول لوري له خپلو دريځونو څخه يو څه راټيټ شي، ترڅو وکړای شي چې د سولې خوا ته نژدې شي."

د ده په وينا، که څه هم ټولو لورو د سولې لپاره چمتووالی ښودلی، مګر د سولې په اړه د هر لوري نظر توپير لري؛ د حکومت نظر دا و، چې د سولې تر نامه لاندې هغو طالبانو ته چې له جګړې څخه ستړي شوي دي، د امتيازاتو په مقابل کې دا لاره پرانيزي چې له حکومت او سياسي بهير سره ملګري شي او د دغه کار لپاره يې له پيسو، د ګاونډيانو له لوري فشار واردولو او د دغه راز له پوځي عملياتو څخه کار واخېست؛ خو له سولې څخه دارنګه تصور، سوله له ګڼو ستونزو سره مخ کړه او د سولې شورا ونه توانېده، چې د دريو څلورو کلونو په اوږدو کې داسې يو عملي ګام پورته کړي، چې هغه افغانانو ته دا هيله ورکړي، چې افغانستان د سولې په لور روان دی او سوله به راځي.

دوکتور عبدالباقي امین وویل: "که چېرته د افغانستان حکومت او د سولې عالي شورا په خپلو اساسي تصوراتو کې بدلون رانه ولي، دوی نه شي کولای چې د سولې په اړه اغېزناک کار وکړای شي او سم رول ادا کړي؛ بلخوا له طالبانو سره هم تراوسه هماغه ذهنیت دی، چې اسلامي امارت به بیا حاکمېږي، مخالفین به یې دوی ته غاړه اېږدي او امریکایان چې کله وځي نو حکومت به د دوی لاس ته ورځي، په دې توګه هغوی هم د بل چا منلو ته تیار نه دي."

نوموړی په دې نظر دی، چې که له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک شي، د دولت وسله وال مخالفین به جګړې ته دوام ورکړي او نور خلک به هم له هغوی سره همکاري وکړي، چې په پایله کې به یې د سولې په لار کې زیات خنډونه رامنځته شي او افغانان به نور هم د جګړې قرباني وي.

افغان دولت د سولې د راتګ په موخه د سولې عالي شورا جوړه کړه؛ خو له ټولو فعالیتونو سره سره یې د سولې څرک نه لګېږي، نو دا چې د ناکامۍ اصلي دلیل یې څه دی؟ ښاغلی عبدالباقي امین یې په اړه وایي: "د سولې عالي شورا په دې نظر ده، چې باید د بېلابېلو هېوادونو د فشار له لارې طالبان دې ته قانع کړي چې له دوی سره خبرې وکړي او دارنګه فشارونه زما په اند اغېزناک نه دي، طالبان نه د سعودي عربستان په لاس کې دي او نه هم د پاکستان، دوی اصلاً د سولې تر نامه لاندې د طالبانو افراد د تشویق او هڅونې له لارې له افغان حکومت سره یو ځای کوي، دوی غواړي چې د طالبانو د قیادت پر ځای، د طالبانو له افرادو سره خبرې وکړي او په طالبانو کې د انشقاق او درز رامنځته کولو په هڅه کې دي، چې طالبانو یې په مقابل کې ډېر کلک حساسیت ښودلی دی، نو د سولې عالي شورا د سولې خبره په حقیقي شکل سره نه مطرح کوي او همدا د دوی د ناکامۍ اصلي لامل دی."

د نوموړي په اند د سولې د راتګ لپار تر ټولو غوره لار دا ده، چې د افغانستان له اهل فکر او اهل فرهنګ خلکو څخه د داسې کسانو، چې د افغانستان له راتلونکي سره علاقمند وي او په خپلو شخصي او ګوندیزو ګټو پسې نه ګرځي، یوه ډله رامنځته شي او د سولې لپاره ریښتینې هلې ځلې وکړي.

ښاغلي عبدالباقي امین زیاته کړه: "دا ډله باید داسې کسان وي، چې له طالبانو، بهرنیانو، حکومت، د حکومت له اپوزیسیون او نورو ټولو لورو سره خبرې وکړای شي ـ له ملت څخه هم دا غوښتنه ده چې د اوس په څېر چوپ پاتې نه شي او د یوه حقیقي حرکت ملاتړ وکړي او په هر ځای کې دا غږ پورته کړي، چې د سولې له دغسې شکلي شوراګانو سره او هسې په تشریفاتي خبرو باندې د افغانستان مشکل نه حل کېږي؛ افغانان باید داسې فشارونه رامنځته کړي، چې په نتیجه کې یې بهرنیان ووځي او افغاني مشران اړباسي، چې د هېواد د ثبات، استقلال او سولې لپاره هڅې وکړي."

خو دا چې دا ډله به په خپله رامنځته کېږي او که کوم لوری دا مسؤولیت لري، چې دا ډله رامنځته کړي؟

ښاغلی امین وايي: "هر کار هلو ځلو ته اړتیا لري؛ په دې هکله موږ په ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز کې هڅې کوو او مخکې مو هم د اهل فکر، اهل فرهنګ او نخبه خلکو یوه غونډه جوړه کړې وه او دا مسئله مو ورسره مطرح کړې وه؛ د هغوی وړاندیز هم دا و، چې یو منځګړی ګروپ باید رامنځته شي، په دې ورځو کې هم پلان لرو، چې د هېواد ځینې مخور کسان راټول کړو او له هغوی سره دا خبره وکړو، دا یوه اراده غواړي او د خلکو احساس او انګېزې ته اړتیا لري؛ نو موږ خپله په دې تړاو هلې ځلې کوو، چې داسې یو جهت رامنځته شي او د دې لپاره له مختلفو لورو سره په تفاهم کې یو."

دا چې حکومت د سولې لپاره د سولې عالي شورا جوړه کړې ده؛ نو که یو بل دریمګړی لوری راپیدا کېږي، حکومت به هم بیا د هغو منلو ته چمتو شي کنه؟ نوموړی وايي: "زما په فکر که حکومت لاس پکې ولري، بیا به نو خپل مؤثریت له لاسه ورکړي او طالبان به وايي، چې دا لوری حکومت رامنځته کړی دی؛ نو ځکه باید دا لوری داسې یو څوک وي، چې پر حکومت یا طالبانو باندې حساب نه وي او دغه راز پر بهرنیانو هم حساب نه وي، ترڅو بیا څوک ونه وايي چې دا لوری ایران یا پاکستان رامنځته کړی دی؛ حکومت او د سولې شورا هم اړ ده، چې دا حرکت په رسمیت وپېژني او سره متحد یې کړي، دغه راز د دې اړتیا هم شته ده، چې د اسلامي هېوادونو د همکاریو سازمان او داسې نور لوري یې هم تایید کړي او د ځینو سفرونو او غونډو اسانتیاوې ورته برابرې کړي، طالبان هم باید همکاري ورسره وکړي او د هغوی خبرې ته غوږ کېږدي او په ټول کې باید ټول لوري مرسته او همکاري ورسره وکړي."

## سیاسي:

# د افغانستان او امریکا وروستۍ ناندرۍ او د افغانستان راتلونکی

نظر محمد مطمئن، لیکوال او شنونکی



### امریکایي ګوندونه

د افغانستان او عراق د جګړو او پر دغو دواړو هېوادونو د حملو طراحان، د هغه وخت د امریکا ولسمشر جورج ډبلیو بوش، د هغه مرستیال ډیک چیني، د دفاع وزیر رمز فیلډ، د بوش سلاکار او نږدې ملګری خلیلزاد، د بهرنیو چارو وزیره مېرمن رایس، په ملګرو ملتونو کې د امریکا استازی جان بولټن او د دفاع وزارت مرستیال ویټس ولف وو، چې په نړیواله کچه د افغانستان او عراق د جګړو عاملین او د بې ګناه خلکو پر وژلو او ځورولو پړه بلل شوي او د جمهوري خواهانو په ګوند پورې تړاو لري.

د دېموکرات کلنټن د واکمنۍ پر مهال، د امریکا اقتصاد ډېر پرمختګ وکړ، امریکا د اقتصاد له پلوه، د مجهز او روزلي پوځ او پرمخ تللو وسلو په لرلو سره هومره پیاوړې شوه، چې په نړۍ کې یې خپل سیال نه لیده. د امریکا د دېموکرات ګوند مشرانو هر وخت د امریکا اقتصاد او خپلو کورنیو پرمختګونو ته ډېر پام کړی؛ برعکس د امریکا د جمهوري خواهانو ګوند بیا هر وخت پر جنګ او جګړه زور کړی دی.

په عراق باندې لومړی ځل برید، چې امریکا له کویټ څخه د دفاع لپاره باله، د جورج بوش د پلار بوش له خوا وشو، کله چې بیا ځل دېموکراتان واک ته ورسېدل، تر ډېره بریده یې بهرنۍ مداخلې کنټرول کړې، کلنټن هېڅکله زړه ښه نه کړ، چې پر افغانستان یرغل وکړي، یوازې پر خوست یې راکټي برید ته زړه ښه کړ. خو جورج ډبلیو

بوش، چې کله واک ته ورسېد، د خپل پلار تګلاره یې مخته یووړه او لومړی یې پر افغانستان او بیا پر عراق حمله وکړه.

د عراق او افغانستان جګړې امریکایانو ته په ګرانه بیه پرېوتلې، اقتصاد یې کمزوری شو، د پوځ رعب یې په نړیوال ډول اغېزمن شو، د پرمختللو وسلو راز او فارمولونه یې چین، ایران او روسې ته ښکاره او ورسېدل، د دېموکراسۍ تر نامه لاندې استعماري کړنو یې امریکایان د نړیوالو په سترګو کې سپک کړل؛ له همدې امله عام امریکایان د بوش واکمنۍ ته په ډېره بده سترګه ګوري ان تر دې چې اړ شول، تورپوستی اوباما، چې پلار یې مهاجر او مسلمان و، واک ته ورسوي.

## د افغانستان او امریکا اړیکې

د افغانستان او امریکا اړیکې په تېر وخت کې هم د شخړو او جنجالونو درلودونکې وې، د جمهوري خواه بوش په وخت کې تر یو حده ښې وې؛ خو د دېموکرات اوباما په دواړو دورو کې ښاغلي کرزي او امریکا چې کله هم د دوی د خوښې خلاف کومه مسئله وي، دوی یې پر سر جنجال کړی او خپلو ځانګړو ګټو ته یې، د دې پر ځای چې د ملتونو او هېوادونو ګټې په پام کې ونیسي، برتري ورکړې ده.

عام افغان ولس حتی د امریکا ځینې افغان ملګري هم، دغه هېواد ته د ملګري په سترګه نه ګوري؛ بلکې د یو سرتمبه او ځېلناک، ځان غوښتونکي، ناسم مدېریت کوونکي، کم عقل په سترګه ګوري؛ افغانان فکر کوي، چې امریکا افغانستان ګروګان نیولی او له افغانانو څخه یې واک اخېستی دي، له همدې امله له دوی سره جګړه کوي.

د افغانستان او امریکا راتلونکې اړیکې هم زیانمنې شوې دي، مګر بیا هم که امریکا او د دوی متحدین سخت کار وکړي او په حالاتو کې مثبت تغییر راولي، په اختلاس او فساد کې له ککړو کسانو او د دوی له لاسپوڅو سیاستوالو څخه لاس واخلي، د حقیقي سولې لپاره قدمونه واخلي، په اقتصادي برخه او بیارغونه کې ور کارونه وکړي، په داسې حال کې چې پوځونه وباسي او مداخله بنده کړي، دغه ډول کړنې به حالت ښه لور ته بوځي.

## د امریکا د تګلارو ناکامي

د امریکا تګلاره هم په افغانستان کې وخت په وخت له ناکامۍ سره مخ شوې؛ دا ځکه چې پر تګلارو سم فکر نه کوي.

د جهاد پر مهال به په اسلام آباد کې د امریکا سفارت د تګلارو جوړولو لپاره لومړی له جهادي رهبرانو سره لیدنې کتنې کولې، د هغوی نظرونه به یې اورېدل، دا ډول به له علماوو، روڼ اندو، په پاکستانې کېمپونو کې د افغان مهاجرینو او په هېواد کې دننه له قومندانانو او عامو وګړو سره لیدنې کتنې درلودلې، د تګلارې په اړه به یې د ټولو نظرونه ټولول، له هغه وروسته به یې د راټولو شوو نظرونو په رڼا کې، تګلاره جوړه او پرېکړه کوله.

اوسمهال امریکا پرته له دې چې د بې پلوه افغانانو، علماوو، روڼ اندو او وړ افغانانو نظرونو ته غوږ کېږدي، په خپل سر او د ځینو غرب پلوه افغانانو نظرونه اوري، چې له دې امله یې هره تګلاره له ناکامۍ سره مخ شوې ده.

**د دېموکراتانو دریځ**

په همدې ورځو کې د ۲۰۱٤ کال د جنورۍ په ۲۲مه د امریکا د پوځ جنرالانو له ولسمشر اوباما څخه غوښتي، چې تر لس زره پورې امریکایان په افغانستان کې پرېښودل شي او د ده د دورې تر پایه کرار کرار ټول پوځیان له افغانستان څخه وباسي، چې پخوا پوځیانو د لسو کلونو پاتې کېدلو لپاره غوښتنه لرله، دا ډول امریکایي جنرالانو اوباما ته مشوره ورکړې، چې که تر لس زره کم پوځیان په افغانستان کې پاتې کېږي، بیا ښه دا ده چې ټول پوځیان له افغانستان څخه وایستل شي.

اوباما، جوبایډن، جان کیري او چک هېګل څلور واړه په افغانستان کې د امریکایانو پاتې کېدل نه غواړي، دوی څلور واړه سناتوران وو، څلور واړه د مشرانو جرګې د باندینو روابطو د کمېټې غړي هم وو، د امریکا په مشرانو جرګه کې د پوره واک لرونکي کسان وو.

څلور واړه یاد شوي سناتوران په هغه وخت کې د عراق د جګړې مخالف هم وو او په دې اړه یې خپل اواز پورته کړی و، دغه راز دوی د اسرائیلو هم بد ایسي او د کرزي او آی ایس آی هم بد ایسي.

اوس چې دغه څلور واړه د امریکا چارې پر مخ بیایي، داسي ویل کېږي چې غواړي د افغانستان جګړه به ختمه کړي.

**امنیتي تړون**

سي آی اې پر جګړه ټینګار کوي، هغوی په افغانستان کې د امنیتي قرارداد غوښتنه او په سیمه کې د امریکایي پوځیانو پاتې کېدل غواړي. امریکایي جنرالان هم پر جګړه ټینګار کوي، په دې وروستیو کې د جمهوري خواهانو اړوند جګپوري جنرالان هم داسې څرګندونې کوي، چې په افغانستان کې باید اډې ولري.

مایک کرسټل هم په خپلو وروستیو څرګندونو کې، په افغانستان کې د امریکایي پوځ د پاتې کېدلو خبرې کړې دي، کله چې مایک کرسټل په افغانستان کې د امریکایي قواوو قوماندان و، هغه وخت پر جګړه ټینګار لو په افغاستان کې د امریکایي پوځیانو د ډېروالي غوښتنې، مایک کرسټل ته د اوباما او دېموکراتانو غوسه راوپاروله، چې په پایله کې یې مایک کرسټل د اوباما له خوا په افغانستان کې د امریکایي پوځ د لوېې قوماندانی له پوستې څخه لرې کړل شو.

په تېرو څو اوونیو کې یو پر بل پسې د جمهوري خواهانو جګپوړي امریکایي چارواکي، په بېلابېلو وختونو کې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو د پاتې کېدلو او د افغانستان او امریکا تر منځ د امنیتي او دفاعي تړون پر لاسلیک کېدلو ټینګار کوي. خو د دېموکرات ګوند اړوند امریکایي چارواکي هڅې کوي، چې په افغانستان کې جګړه ختمه شي او ټول امریکایي پوځیان له افغانستانه وباسي.

د ولسمشر اوباما مرستیال جوبایډن هم په روانه اوونۍ کې وویل، چې امریکایي پوځیان باید له افغانستان څخه وایستل شي، د امریکایي چارواکو د تر ټلو مهم او لوړپوړي چارواکي دغه ډول څرګندونو، امریکایي جنرالان او د سي آی اې غړي اندېښمن کړي دي.

اوباما د تېرو ټاکنو پرمهال امریکایي ولس ته وعده ورکړې وه، چې د عراق جګړه به ختموي او له افغانستان څخه به خپل ټول پوځیان وباسي، چې د روان کال د ډسمبر پر ۲۱مه نېټه یې دغه خبره بیا تازه کړه.

**د امنیتي تړون په اړه د حامد کرزي دریځ**

د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ پر پېنځمه نېټه ښاغلي کرزي راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته یولس نوماند کسان غرمنۍ ته دعوت کړي وو، ښاغلي عبدالله عبدالله په زغرده ښاغلي کرزي ته ویلي وو، چې دا ستاسې مسؤولیت دی چې له امریکا سره تړون لاسلیک کړی، دا ډول ډاکټر اشرف غني احمدزي ولسمشر کرزي ته ویلي وو، چې د تړون لاسلیک کول زموږ او افغان ولس په ګټه دي، ښه به وي چې لاسلیک شي، استاد سیاف هم د تړون ګټو او اړتیاوو ته اشاره کړې وه.

ولسمشر کرزي له دغو نوماندانو او د هغوی له مرستیالانو سره په مجلس کې په ډاګه وویل: "هغه خبره یادوم چې ډاکټر عبدالله عبدالله سپینه وکړه، ډاکټر اشرف غني احمدزي په نیمه کې او محترم استاد سیاف په لفافه کې وکړه، د امنیتي تړون امضاء کول، ترڅو چې زه ډاډه شوی نه یم، له امریکا سره تړون نه امضاء کوم."

**د ولسمشر کرزي تېره واکمني او راتلونکې ټاکنې**

په ۲۰۰۹ زېږدي کال کې مېرمن کلنټن ولسمشر کرزي ته د امریکا د حکومت پېغام ورساوه، چې امریکا قسیم فهیم د ولسمشر د لومړي مرستیال په توګه نه شي منلای، دا ډول جنرال عبدالرشید دوستم هم امریکا نور نه شي زغملای، چې په افغان حکومت کې د واک څښتن وي.

کله چې په ۲۰۰۹ زېږدي کال کې ټاکنې د ښاغلي کرزي په ګټه اعلان شوې او لومړی مرستیال یې ښاغلی فهیم وټاکل شو، د اوباما له خوا بیاځلې پیغام ورته ورسېد، چې زما په دوره کې قسیم فهیم او رشید دوستم امریکا ته نه شي راتللای او هېڅکله به د امریکا وېزه دوی ترلاسه نه کړي.

له همدې امله وو، چې قسیم فهیم د زړه د درملنې لپاره کلونه وړاندې جرمني ته ولاړ او بیا یې د مرګ اوازه هم ځینو رسنیو خپره کړه، داسې فکر کېږي چې د هغه د مرګ اوازه به هم ځینو ځانګړو رسنیو په هغه وخت کې د پلان له مخې خپره کړې وه. رېپوټونه وايي، چې اوسمهال بیا هم ښاغلی فهیم د روغتیایي ستونزو له امله جرمني ته تللی دی.

ویل کېږي چې ولسمشر کرزي او ښاغلي فهیم بیاځلې هوډ کړی، چې واک په خپل لاس کې وساتي. کرزی او ټیم یې خوشاله دي، چې راتلونکې ټاکنې به بیا هم جمهوري خواهان ګټي او جمهوري خواهان د دوی د ټیم ملګري او ملاتړ کوونکي دي.

مېرمن کلنټن هم په امریکا کې د راتلونکو ټاکنو لپاره سر له اوسه تیاری نیسي؛ خو چانس به یې څکه کم وي، چې دوې پرله پسې دورې دېموکراتانو حکومت وکړ، درېیمه دوره به سخته وي چې وېې ګټي، که چېرته مېرمن کلنټن واک ته ورسېږي؛ نو بیا ښکاره خبره ده چې د دېموکراتانو په واک کې پاتې کېدل، د ښاغلي کرزي او د ده د ټیم پر تاوان دي، خو که جمهوري خواهان واک ته ورسېږي، بیا نو د ښاغلي کرزي او د ده د ټیم په ګټه دي.

داسې فکر کېږي، چې جمهوري خواهان په دې راضي دي، چې د ښاغلي کرزي کورنۍ په واک کې پاتې شي، خو دېموکراتان یې مخالفت کوي.

ښاغلی کرزی غواړي، چې د ده شرایط ومنل شي او تړون لاسلیک کړي، تر ټولو لوی شرط به یې دا وي، چې د ده ورور قیوم کرزی راتلونکی ولسمشر اعلان شي.

په دې ورځو کې (د ۲۰۱٤ د جنورۍ پر ۲۲مه) رسنیو پو رېپوټ خپور کړی، چې پینځه تنه نوماندان به د ښاغلي قیوم کرزي په ګټه له خپلې نوماندۍ څخه تېر شي، ویل کېږي چې په دې ډله کې به د بهرنیو چارو پخوانی وزیر زلمی رسول هم وي.

حامد کرزي هم په تېرو دولسو کلونو کې د پام وړ سیاسي تجربه ترلاسه کړې او په ځنګ کې یې پیاوړی سیاسي او پوځي لوبغاړی قسیم فهیم هم شته دی، تر څپله وسه به هڅې وکړي چې په واک کې پاتې شي، ویل کېږي چې فهیم هم هوکړه کړې، چې له قیوم کرزي سره به پر یوه لاره روان وي.

**سعودي عربستان، پاکستان او طالبان**

ښاغلي کرزي هغه وخت لویه تېروتنه وکړه، چې تر مشورتي لویې جرګې وروسته او له امریکا سره د تړون پر سر د ناندریو له پیل کېدلو سره سم یې ایران ته سفر وکړ او د ایران او افغانستان تر منځ د ستراتېژیک هوکړه لیک پر سر یې له ایران سره خبرې وکړې.

د ښاغلي کرزي دغه کار عرب هېوادونه په ځانګړې ډول سعودي عربستان او متحده امارات خفه کړل، هغوی ووېرېدل چې له ښاغلي کرزي سره پر لاره تګ به ستونزمن شي.

بلخوا د سعودي عربستان او امریکا اړیکې هم د سوریې پر سر ترینګلې شوې، دا ډول د امریکا او ایران نږدې کېدل او د امریکا له خوا د ایران د اټومي پروګرام تسلیمولو هم د سعودي غوسه وپاروله؛ خو د سعودي عربستان او پاکستان اړیکې بیا پخې دي.

ویل کېږي چې پاکستان ته د سعودي عربستان د بهرنیو چارو د وزیر سفر له ډېر اهمیته ډک او مهم و.

طالبانو په تېرو دولسو کلونو کې له سعودي عربستان سره ډېرې خړې پړې اړیکې درلودې؛ د طالبانو د واکمنۍ په وروستیو وختونو کې د طالبانو او سعودي اړیکې هغه مهال خرابې شوې، چې د هغه وخت د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزارت ترکي الفیصل سپکاوی د طالبانو د مشرانو له خوا وشو. سپکاوی په دې معنا نه چې طالبانو د هغه عمدي او قصدي سپکاوی کړی، د هغه خبره یې د اسامه بن لادن په اړه ونه منله، ترکي الفیصل خفه شو او ملامحمد عمر آخند سختې خبرې ورته وکړې.

اوس چې د امریکا او سعودي اړیکې مخ په خرابېدلو دي، د امریکا او ایران اړیکې مخ په ښه کېدلو دي، دا ډول پاکستان هم د پخوا په ډول نه شي کولای چې دوه مخې تګلاره، چې په ښکاره له امریکا سره ملاتړ خو په پټه بیا د امریکا ګټو ته زیان ورسوي، دا لاملونه دي چې د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر پاکستان ته سفر وکړ.

ممکن چې د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر به له پاکستان څخه غوښتي وي، چې طالبانو ته د سعودي عربستان د دوستۍ پیغام ورسوي او غوښتي به یې وي، چې له طالبانو سره ښې اړیکې ولري؛ ځکه چې سعودي

عربستان پر اهل تشيع سربېره په مصر او نړۍ کې له اخوان المسلمين سره هم ستونزه لري، په مصر کې د اخوان المسلمين د حکومت پرځولو اصلي لوبغاړي هم سعودي او امارات وو.

طالبان هم ښه پوهېږي، چې له سعودي عربستان سره به يې ملګري له مجبوريته وي، چې کله هم د دوی او امريکا اړيکې بېرته سمې شي بيا به نو خړ پړ طالبان هېروي او د امريکا د ګټو لپاره به کار کوي.

داسې معلومېږي چې سعودي عربستان به هم عملاً د افغانستان لوبې ته راګډ شي؛ اوسمهال سعودي عربستان مجبورځ بايد د طالبانو پټ ملاتړ وکړي او په افغانستان کې به د امريکايي اډو او پوځيانو د شتون مخالفت کوي، دا ډول همدغه د پاکستان پټه تګلاره هم ده.

پاکستان به ښاغلی کرزی هم وهڅوي، چې د ايران او اهل تشيع له دوستۍ څخه لاس واخلي او د هغوی پر ځای له سعودي عربستان او اماراتو سره اړيکې ښې کړي.

**پايله**

که چېرته سعودي عربستان او پاکستان هوکړې ته ورسېږي او له طالبانو سره اړيکې سمې کړلای شي، دا ډول دېموکراتان هم د سي آی اې تر فشار لاندې رانه شي، په دغه صورت کې به اوسنی نظام ړنګېږي او په افغانستان کې به له ټولو ښکېلو لورو څخه جوړ شوی نوی حکومت منځته راځي. پای